**مطبوعاتي اعلاميه**

**جمهوريت، ډیموکراسي او ډیموکراټیکې ټاکنې په افغانستان کې ناکامې شوې؛**
**دوام یې د ناکامو تجربو تکرار دی**

د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو پر سر له شپږو میاشتو جنجال او کشمکش وروسته بالاخره دوو مخکښو نوماندانو اشرف غني او عبدالله عبدالله په دوو بېلو مراسمو کې د ولسمشرانو په توګه لوړه وکړه. دوی خپله بریا "د جمهوریت او ډیموموکراسۍ بریا" وبلله.

په داسې حال کې چې موږ تل د افغانستان مسلمانو او مجاهدو خلکو ته د ډیموکراټیکو او امریکايي پروسو له بدو او ناوړه پایلو خبرداری ورکړی دی. لکه څنګه چې د ۲۰۱۹ د سپټمبر په ۲۸مه نېټه مو په یوه مطبوعاتي اعلامیه « ډیموکراتیکې ټاکنې؛ افغانستان ژور سیاسي ناورین ته بیايي!» کې روښانه ویلي وو چې «د افغانستان د جمهوري ریاست ټاکنې تر ایرو لاندې هغو سرو سکروټو ته ورته دي چې په خپل زړه کې ستر سیاسي ناورین روزي او ژر ده چې خلک به دغه ناورین په زړه او ځان سره احساس کړي. لکه څنګه یې چې د ۲۰۰۹، ۲۰۱۴ او ۲۰۱۸ کلونو په ټاکنو کې تجربه کړ.»

اوس د یوې مخلصې او وېښوونکې ډلې د خیر نصحیت په پام کې نیولو پرته، د افغانستان په تاریخ کې په لومړي ځل دوو کسانو د ولسمشر په توګه د لوړې مراسم ترسره کړل. دغو دوو رهبرانو په قرآن کریم قسم وخوړ؛ خو د قرآن کریم د تطبیق، ساتنې، عزت او حرمت پر ځای امریکا ته وفادار دي او د ډیموکراسۍ او غیر اسلامي اساسي قانون د تطبیق لپاره هڅې کوي. لکه څنګه چې هر یوه خپل کاري لومړیتوب د امریکایي سولې پروسه تعریف کړه. له دې امله چې په افغانستان کې رینښتینې سیاسي رهبري نشته، نو په نتیجه کې ټولې دا ډول پروسې او کارونه د امریکا په ګټه پای ته رسېږي.

په رامنځته شوي سیاسي ناورین سره ډیموکراسي، جمهوریت، ډیموکراټیکې ټاکنې او نور تحمیلي او باد راوړي غربي ارزښتونه د کمونیستي ارزښتونو په څېر ناکام او مسخره شول او عورت یې ټولو ته لوڅ او بربنډ شو. دا مفکورې د افغانستان د مسلمانو خلکو له عقایدو سره د ټکر له امله په هېڅ ډول په ټولنه کې رېښې او اساس نشي پیدا کولای؛ بلکې یوازې د چل، فریب او نظامي زور له لارې په ناقص او موقتي ډول تپل کېدای شي او پایله یې هم له لا زیاتې سیاسي تفرقې پرته بل څه نه ده.

په حقیقت کې دغو فریب خوړلو سیاسیونو د امریکا په ملاتړ د افغانستان د مسلمانو او دردمنو خلکو سیاسي برخلیک له ځانونو سره ګرو کړی او وینه، انرژي او احساسات یې په نامشروع لاره ضایع کوي.

د افغانستان مسلمان خلک باید پوه شي چې شر او بدبختي د امریکا او د هغوی د لاسپوڅو سیاسونو د سیاسي تصمیمونو او اجنډاوو په پیروۍ کې نغښتې ده او د دنیا او آخرت خیر او سلامتي یوازې د اسلامي نظام (دویم راشده خلافت) له لارې د اسلامي نظام، افکارو او رزښتونو په حاکمولو کې ده او بس.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

**د حزب التحریر رسمي ویبپاڼه**
www.hizb-ut-tahrir.org
**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر ویبپاڼه**
www.hizb-ut-tahrir.info

**د حزب التحریر ولایه افغانستان رسمي ویبپاڼه**
www.hizb-afghanistan.org
**ایمیل پته**
info@hizb-afghanistan.org